# د پښتونخوا خبره

ځلان مومند

هر څو کۀ ما د ۱۳ نومبر ۱۹۹۷ نه په دې موضوع د ليکلو نه ډډه کړې ده ځکه چې په دې تاريخ زمونږ د مرحوم سپيکر هدايت الله خان چمکني په صدارت کښې صوبائي اسمبلۍ د دې صوبې د پاره يو نوم په اکثريتي رائې سره غوره کړے ؤ. خو د دې خبرې اخر څۀ علاج وکړے شي چې په هنګامي حالاتو کښې دا نۀ صرف د اې اين پي نه د مرورو دانشورانو او صحافيانو د خوښې موضوع جوړه شي بلکې په ۱۹٤۷ کښې زمونږ د پيدا شوي مشر ورور يعني پنجاب ليکبانو ته د پښتونخوا نه سېوا بله غوره او ښه موضوع په لاس نۀ ورځي. حالانکې زمونږ محترم او قدرمن مشر حېدر جاوېد سيد نه علاوه باقي يو داسې پنجابے ليکونکے نشته چې هغۀ د دې صوبې نورې مسئلې په صحيح معنو کښې د ليکلو وړ ګڼلې وي او هسې هم حېدر جاوېد سيد پنجابے نۀ دے د ملتان اوسېدونکے دے نو په دې نسبت سرائيکي دے او بيا داسې سرائيکي دے چې د وسطي پنجاب د توسيع پسندانه عزائمو سره ئې تل اختلاف لرلے دے او



زمونږ د پاره خو په دې حواله هم محترم دے چې سيد زاده دے او هغه هم نجيب الطرفېن. لاهور بلکې د هغۀ په قول د تخت لهور يو دانشور څۀ موده وړاندې د دې مسئلې د حل د پاره دا تجويز پېش کړے ؤ چې دې صوبې له ((اسلاميه)) نوم کېښودل هيڅ باک نۀ لري او د هغې دليل هغۀ دا پېش کړے ؤ چې د دې صوبې (يعني زمونږ د صوبائي اسمبلۍ په قول د پښتونخوا) اولس تر مبالغه آميز حده پورې مسلمانان دي. نۀ پوهېږم چې دې ښاغلي له د مبالغې معنٰې ورځي هم کۀ نۀ؟ کالم خو د تېرو پينځو د پرشو کالو نه ليکي. په دې کښې د مبالغې هيڅ خبره نشته، د کومې معاشرې ترکيب چې په اسلامي اصولو پوره خېژي هغه به د الله پاک په فضل د دې صوبې نه علاوه په دې اووۀ لکه شپږ نوي زره شپږ نوي مربع کلوميټره کښې چرته هم په نظر رانۀ شي. کۀ تعصب او جانبداري يوې ډډې ته کړې شي نو زمونږ دا دعوٰي څوک دروغ کولې هم نۀ شي. خو بيا هم چې خبره د پښتونخوا راځي نو زمونږ ټول دانشوران د معروفو اصولو پرېښودلو کښې د وسيعو قومي

مفادو خبر وینې. ګني نو دا تپوس کېدے شي چې کۀ نسبت داسې وي نو په پینځۀ پنځوس اسلامي ملکونو کښې د پاکستان یوه صوبه د دې مستحقه ګڼلې شي آیا د مشرق وسطي ملکونو ته چرې چا دا نصیحت کړے دے او آیا د پاکستان نورې درې صوبې د مسلمانانو د اکثریت حاملې نۀ دي؟ مونږ دا وایو چې دا صوبه مبالغه آمیز حده پورې سهي ستاسو صوبه خو ((اصلي تے وډے واله)) ده نو د دې قسمه نوم ایښودو ابتدا تاسو ولې نۀ کوئ؟ د دې جواب دا دے چې هغه خپل ځان ته پنجابے وائي او په خپل کالم کښې هغوي دا لیکلي هم دي نو د ځان دپاره دوي دروازه لرې پرېښې ده. د دې نه وړاندې د دې صوبې نوم زمونږ معزول یا مستعفي صدر مشرف خبر تجویز کړے ؤ شاید د هغې وجه دا وه چې دغه انټرویو هغۀ سره اے وي ټي خبر کړې وه. د الله پاک شکر دے چې دا انټرویو ایکسپریس یا بنداس یا دهوم چېنل نۀ وه کړې ګني نو د دې صوبې دپاره د ایکسپریس، دهوم یا بنداس نوم د تجویز ورکولو نه هم هغه چا نۀ شو منع کولے. په دې نوم دړدېدلي یو تن دا براه راست تبصره کړې وه چې کۀ د صوبې نوم خېبر کښېودل وي نو بیا دې پېښور له هم شاه ډنډ نوم کېږدي ځکه چې اصلي مقصد خو سپوري زیاتول او اصل څیز کمول دي.

اوس یو بحث دا شروع شوے دے چې د پښتونخوا په نوم د چا اعتراض نشته خو تر کومې پورې چې په آئین کښې د دې اندراج نۀ وي شوے تر هغې وخته دې د دې صوبې دپاره دا نوم نۀ لیکلے او نۀ وئیلے شي او په دې دلیل کښې د شدت پېدا کولو دپاره دا هم وئیلے شي چې داسې کولو سره به آئین شکني کېږي. د دې دلیل مثال بس د یو حکم په شان دے ځوک د دې تشریح کول نۀ غواړي چې آخر د دې مطلب څۀ دے؟ د دې ملک آئین په ۱۹۷۳ کښې جوړ شوے دے او دې صوبې ته زمونږ قومي شاعر خوشحال بابا او احمد شاه بابا غوندې مشرانو په سوونو کاله مخکښې پښتونخوا وئیلې او لیکلې ده. تر کومې چې د آئین ماتولو خبره ده نو هغه هم عجیبه ده. په اهمو آئیني امورو د دې ملک د باني ډلې یو ورژن یعني مسلم لیګ (ق) آئین د عسکري تجاوزاتو یو بازار جوړ کړو او هغوي بیا هم محب وطن دي، ولې هغوي داسې کار د ټولو نه مخکښې پاکستان او د روشن خیالۍ او اعتدال پسندۍ د وسیع تر قومي مفاداتو دپاره کړې وو. د پاکستان د خالقې ډلې مسلم لیګ یو بل ورژن یعني مسلم لیګ (ن) د آئین پاکستان د عدلیې واله باب تر یو نیم دوو کالو پورې منلو ته تیار نۀ ؤ خو هغوي د قانون او آئین ماتولو ارتکاب نۀ کولو بلکې اپوټه ورله د اصولي سیاست داد

**اکرم خان دراني د پښتونخوا د قرارداد په محرکینو کښې شامل ؤ، پیر محمد خان هم د پښتونخوا حمایتي ؤ. نجم الدین خان او آفتاب شېرپاؤ ته هم ځوک د پښتونخوا مخالف نۀ شي وئیلے. زمونږ صدر او وزیر اعظم خو هسې هم مدعیان دي او الطاف حسېن خو د پښتونخوا لفظ استعمال د هر غېر پښتون قوم پرست نه زیات کوي**

ورکېدے شو. مونږ ته خو دا هم یاد دي چې د اصولي سیاست د مانۍ په دوېم چت کښې اوسېدونکے عمران خان هم په دې مسئله تېر وخت کښې د حمایت د رائې سره خپل اواز ملګرے کړے دے او څنګه چې هغه د مشرف د حمایت نه لاس په سر شوے دے دغه رنګ کېدے شي چې د دې مسئلې نه ئې هم رجوع کړې وي.

> د جماعت اسلامي د سراج الحق وېډیو موجوده ده چې پکښې ئې دې صوبې ته پښتونخوا وئیلې ده

یو رائې دا هم لوستلې شوې ده چې په دې مسئله اتفاق رائې پېدا کول پکار دي. اوس د یو سیاسي طالب علم په حېث دا سوال کول ډېر ضروري معلومېږي چې د اتفاق رائې نه مراد څهٔ دي؟ د ۱۳ نومبر ۱۹۹۷ نه پس هغه کومه یوه علاقه ده چې په دې صوبه کښې شامله شوې ده او د هغې نمائنده دولس کاله وړاندې په صوبائي اسمبلۍ کښې موجود نۀ ؤ؟ یو سلیم سېف الله خان او بل د هغهٔ وړور همایون سېف الله خان وو چې د پښتونخوا مخالفت ئې کړے ؤ خو د اول الذکر د «افغانیه» دپاره رضامندي اوس اوس په ریکارډ راغلې ده. اکرم خان دراني د پښتونخوا د قرارداد په محرکینو کښې شامل ؤ، پیر محمد خان هم د پښتونخوا حمایتي ؤ. نجم الدین خان او آفتاب شېرپاؤ ته هم څوک د پښتونخوا مخالف نۀ شي وئیلے. زمونږ صدر او وزیر اعظم خو هسې هم مدعیان دي او الطاف حسېن خو د پښتونخوا لفظ استعمال د هر غېر پښتون قوم پرست نه زیات کوي او د ټولو نه زیاته د نوټ کولو خبره دا ده چې په تېره شوې قومي اسمبلۍ کښې د دې صوبې د پاره د پښتونستان نوم کېښودلو پرائیوېټ ممبر بل امیر مقام جمع کړے ؤ. د جماعت اسلامي د سراج الحق وېډیو موجوده ده چې پکښې ئې دې صوبې ته پښتونخوا وئیلې ده او زما په خیال سراج الحق په نوي سیاسي قیادت کښې د ټولو نه زیات صالح بنده دے هغه به چرې هم د خپلې خبرې نه په شا نۀ شي. نو د اتفاق رائې نور مطلب څهٔ دے؟ آیا داسې تنظیمونه چې د هغوي هیڅ پارلیماني وجود نشته هغوي له دومره اهمیت ورکړے شي چې پارلیمان نظرانداز کړے شي او د هغوي واورېدے شي او د هغوي مطالبه جائز او صحیح وګڼلې شي؟ یا د هغو خلقو خبره آئین وګڼلې شي څوک چې د دې صوبې ډومیسائل هم نۀ لري او څوک چې د ارزانو او ښو اوړو او په یوه روپۍ د تنور روټۍ خوړلو په وخت د صوبه سرحد ؟؟ د خلقو مشکلات په خاطر کښې هم نۀ راولي.

> کۀ هغه وخت د دې ځائے د صوبائي اسمبلۍ نه په پاکستان کښې د شاملېدو یا نۀ شاملېدو پوښتنه نۀ وه شوې (لکه چې د غېر منقسم هندوستان د اکثرو صوبو نه تپوس شوے ؤ) نو د هغې وجه دا وه چې دلته د کانګرس حکومت ؤ او د سوال جواب د مخکښې نه معلوم ؤ.



د ریفرنډم خبره هم ډېره عجیبه ده. داسې ښکاري چې ۲۰۰۹ دوي ۱۹٤۷ ګڼلې وي. په دې خبره کښې هیڅ شک نشته چې کۀ هغه وخت د دې ځائے د صوبائي اسمبلۍ نه په پاکستان کښې د شاملېدو یا نۀ شاملېدو پوښتنه نۀ وه شوې (لکه چې د غېر منقسم هندوستان د اکثرو صوبو نه تپوس شوے ؤ) نو د هغې وجه دا وه چې دلته د کانګرس حکومت ؤ او د سوال جواب د مخکښې نه معلوم ؤ. نو ریفرنډم داسې یوه ذریعه وه چې د هغه وخت خاص ضرورتونه ئې پوره کول. خو اوس مونږ ازاد یُو، اوس د دې صوبې د اسمبلۍ د خبرې نۀ منلو څوک څۀ توجیه پېش کولې شي؟ په اسمبلو کښې دا وخت کوم سیاسي جماعت دے چې د هغوي اکابرینو د پښتونخوا یا افغانیه حمایت نۀ وي کړے؟ بلکې د پاکستان د لفظ د خالق چودري رحمت علي په پاکستان کښې دا (الف) خو ؤ د افغانیه دپاره.

پاتې شوه د آئین د احترام خبره نو ډېر په ادب سره عرض لرم چې د کوم آئین انطباق په یوه خاص معامله کښې صرف په پښتنو کولے شي نو هغه څوک منصفانه تسلیمولے شي. دا آئین په دې صورت کښې احترام نۀ غواړي کله چې د دۀ د آرټیکل ١٦٠ مطابق قومي مالیاتي کمېشن ایوارډ کښې د وړو قومیتونو بېړه غرقولې شي او د آرټیکل ١٦١ مطابق د بجلۍ د خالص آمدن نه یوه وفاقي اکائي محرومولے شي؟

عجیبه خبره دا ده چې د دې آئین نه د ډش انټینا جوړونکو ادارو خلاف آرټیکل ٦ په حرکت کښې نۀ راځي خو دا د آئین څۀ بې حرمتي نۀ ده او نۀ دا د آئین په احترام څۀ اثر غورځوي. د انصاف وجود خو له سره شته نه خو نن چې کوم خلق د دې موضوع په تناظر کښې پښتنو سره تعصب لري د هغوي نه خو تپوس کېدے شي چې تاسو د کومو دلیلونو اډانه اخلئ آیا د دې دلائلو په بنیاد ټول پاکستان سره معامله پکار نۀ ده کۀ نۀ صرف لاټري د پښتنو راوتې ده. بنګله بندهو شېخ مجیب الرحمٰن داسې یو سوال د پاکستان د اشرافیې نه کړے ؤ زۀ هغه سوال دوباره کوم «تاسو ته زمونږ هره خبره ناجائز ښکاري خو چې کله په هغې مسئله زمونږ وینه زمکه خړوب کړي نو بیا تاسو زمونږ خبره ومنئ، اخر داسې ولې کېږي؟ ولې په پاکستان کښې د خپلې خبرې د صداقت ثابتولو دپاره به مونږ هر ځل خپلې وینې وړاندې کوو؟».

